روزل شوی نسل نیکمرغه افغانستان

هفته نامه

# معارف

اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۲۵ ماه قوس سال ۱۳۹۶


## په ټول هېواد کې پر یوه وخت سامع آزموینه واخیستل شوه

د هېواد په ټولو سرو سیمو کې د سامع آزموینو لړۍ د کابل له رابعه بلخي عالي لېسې څخه پیل شوه. د پوهنې وزارت سرپرست ډاکټر محمد ابراهیم شینواري، چې د آزموینې بهیر یې له نژدې کوت ګډونوالو ته د هر ډول روڼتیا ډاډ ورکړ او یادونه یې وکړه، چې تر وروستي بریده هڅې دادي، چې شفافیت تضمین او حق حقدار ته وسپارل شي.

ښاغلي شینواري زیاته کړه: زموږ یو شمېر ځوانان او پېغلې هر کال د یو شمېر کورنیو او ځینې نورو ستونزو له امله د ښوونځي پرېښودو ته اړ کېږي او بیا د کال په پای کې د مشخصې کړنلارې پر بنسټ له دوی د سامع په نامه ازموینه اخیستل کېږي. نوموړي یادونه وکړه، له دې امله، چې دا پروګرام په اصل کې زده کړو ته د هر هیوادوال د لاسرسي په موخه پیل شوی و، خو متاسفانه د کاروني ډول یې داسې و، چې تر ډېره هغه کسان په کې حاضرېدل، چې یا به یې هېڅ ښوونځی نه و لیدلی یا به هم د پوهنې



په داسې کچ کې نه و، چې ازموینه کې دې بریالی شي. موږ له همدې امله په دې آزموینه کې د شفافیت د راوستلو په موخه اړ شو، چې یو لړ بدلونونه راولو. ښاغلي شینواري زیاته کړه، ددې لپاره چې دغه آزموینه منسجمه او منظمه شي، پرېکړه وشوه، چې یوازې په کابل کې آزموینه واخیستل شي، خو د سږې هوا له امله تصمیم ونیول شو، چې د هر ولایت په مرکز کې هم په مشخصو مرکزونو کې دغه...

(۲مخ)

## دیدار معین تعلیمات اسلامی وزارت معارف با معاون وزارت آموزش و پرورش ایران



دکتور محمد شفیق صمیم معین تعلیمات اسلامی وزارت معارف با خانم رضوان حکیم زاده معاون وزارت آموزش و پرورش ایران در دفتر کارشان دیدار و روی موضوعات مورد علاقه در پیوند به بهبود وضعیت آموزشی وزارت معارف افغانستان صحبت نمودند.

همچنان هر دو طرف به آموزش اطفال مهاجران افغان مقیم جمهوری اسلامی ایران، تبادله همکاری های تعلیمی، ایجاد نمایشگاهای تعلیمی و سایر موضوعات صحبت نموده و در زمینه موارد یاد شده برای جوانب مقابل به همکاری های متداوم خویش تأکید نمودند.

همچنان آقای صمیم گفت: ما امید وارهستیم تا امکانات لازم تعلیمی برای اطفال افغانی مقیم ایران فراهم گردد.

متعاقباً خانم رضوان حکیم زاده پیشرفت های این وزارت را ستوده و وعده های همکاری را به معارف افغانستان در عرصهٔ بهبود و غنامندی هرچه بیشتر آموزش و پرورش سپردند.

## کنفرانس ویدیویی رهبری وزارت معارف با رؤسای معارف ولایات

رهبری وزارت معارف در جریان جلسه مهمی که دایر گردیده بود با رؤسای معارف ولایات کشور از طریق ویدیو کنفرانس صحبت نمودند.

این صحبت رهبری وزارت معارف با رؤسای معارف ولایات یکی از اقدامات مهمی است که رهبری این وزارت رویدست گرفته است.

در این جلسه جلالتمآب داکتر محمد ابراهیم شینواری سر پرست وزارت معارف تأکید نمودند که منبعد به منظور بهبود و ضعیت آموزشی در کشور باید با مسوولان ولایتی رو در رو صحبت شده و مشکلات آنها شنیده شود تا در جهت اصلاح آن هدایات لازم صادر گردد.

محترم سرپرست وزارت معارف تأکید نمودند « برای عموم کارمندان دولتی قانون مسوولیت های خاص، صلاحیت ها و حقوق داده است که متأسفانه در جای جایی از آن سرکشی صورت می گیرد.

موصوف به صورت جدی از رؤسای معارف خواست که به هیچ وجه چنین راهکارها برای رهبری وزارت معارف پذیرفتنی نیست.محترم شینواری در رابطه به تقرر و تبدیل کارمندان تأکید نمودند، دقیقاً حکم منظوری بست های ۷،۸ و ششم بعد از امتحان رقابتی از سوی والیان صادر می شود و منظوری بست های بالاتر از آن تا بست سوم از صلاحیت های وزارت می باشد بناءً هیچ رئیس نمی تواند در مورد تصمیم بگیرد.

هم چنان برای رؤسای معارف ولایت



ده روز مهلت داده شد تا در مورد همچو تقرری ها و تبدیلات معلومات ارایه بدارند و در صورت عدم معلومات هیأت از مرکز اعزام شده و بعد از بررسی متخلفین به ارگان های عدلی و قضایی معرفی خواهند شد. موضوع دیگر که از سوی محترم داکتر شینواری سرپرست وزارت معارف به آن تأکید صورت گرفت و مهم است موضوع نتایج سالانه شاگردان و توزیع شهادتنامه ها می باشد ...

(ص۲)

## د بي بي عایشې (رض) له عالي دارالعلوم څخه سلګونه نجونې فارغې شوې

د کابل ښار د بي بي عایشې (رض) له عالي دارالعلوم څخه ۴۱۳ تنه نجونې فارغې شوې. د دوی له ډلې ۳۸۳ تنه له څوارلسم ټولګي او پاتې ۳۰ تنه له دولسم ټولګي څخه فارغې شوې دي. دا د یاد دارالعلوم لسمه دوره فارغانې دي، چې ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کوي.

د دوی د فراغت په ویاړ جوړه شوې غونډه کې د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو مرستیال ډاکټر محمد شفیق صمیم، د ولسي جرګې غړي عبدالستار خواصي، د پوهنې وزارت د دارالعلومونو رییس محمد عارف ملکیار، یو شمېر دیني عالمانو او د فارغو التحصیلانو کورنیو ګډون کړی وو.

د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو مرستیال ډاکټر محمد شفیق صمیم فارغو شویو نجونو ته مبارکي وویله او د اسلام د ستر پیغمبر حضرت محمد مصطفی مبارکو...

(۲مخ)

## د لوګر لومړنیو ښوونځیو ته د قرطاسیې وېش پیل شو

د لوګر ولایت اړوند ۲۶۸ ښوونځیو د لومړنۍ دورې د ښوونکو او زده کوونکو لپاره د قرطاسیې وېش پیل شو. ددې قرطاسیې له وېشلو سره به د ابتدایه دورې د ټولو ښوونکو او زده کوونکو د قرطاسیې د کموالي ستونزه په بشپړه توګه هواره شي.

د قرطاسیې دغه مرسته، چې کتابچې، قلمونه، پنسلونه، پنسل پاک، قلم تراش، رنګې، تباشیر، دحاضرۍ کتابونه او نور اړوند ضروري درسي مواد پکې شامل دي، څه موده وړاندې د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ اداري (یونیسف) لخوا شوې وه، چې شاوخوا ۷۹ زره امریکایي ډالره ارزښت لري.

د لوګر د پوهنې ریاست هڅه کوي، چې د روان ژمي په رخصتیو کې خپلو ټولو زده کوونکو ته درسي کتابونه او قرطاسیه ووېشي؛ څو زده کوونکي د راتلونکي نوي ښوونیز کاَل لپاره ښه چمتووالی ونیسي.

سرمقاله:

# پوهنه دژوندانه د لارې ډيوه او رڼا ده

پوهنه دژوندانه د لارې ډيوه او رڼاه ده په نړۍ کې هيڅ قوم او ملت له علم او پوهې پرته پدې ندی توانيدلی چې سر لوړی ژوند وکړي او د پرمختګ او ترقۍ هسکو او لوړو څوکو ته ځان ورسوي، ټول هغه هيوادونه او خلك چې نن د خوند او رنګ شپې او ورځې تيروي د ژوندانه ټولې سختۍ په ځان تيرې کړي شپه او ورځ يې کار کړی، تجربې يې کړې او په علمي او فني ډګرونو باندې د لاسبري کيدو لپاره يې خولې تويې کړيدي.

زموږ د ګران هيواد افغانستان تير تاريخ د دې شاهد دی چې زموږ پلرونو او نيکونو هم له هر فرصت څخه ګټه پورته کړې او په هيواد کې د علم او پوهې دعامولو لپاره يې تل هڅې کړې او هيواد يې د ترقۍ او پرمختګ په لور خوځولي، دی چې د غوريانو، سوريانو غزنويانو او سيستان سلطنتونو آبادۍ او پرمختګونه له چاپېټ ندې،خو د دې لپاره چې زموږ هيواد تل د مستکبرو هيوادونو او بيلا بيلو فرهنګونو ترمنځ د تلاقۍ او څلور لارې حيثيت درلود نوځکه يې هستي، شتمني او عمرانات تل د مهاجمينواو يرغلګرو د زور زياتي ښکار شوي چې همدا نن ورځ چې د نړۍ تقريباً ۹۵ سلنه انسانان په سوله او امنيت کې ژوند کوي خو زموږ په هيواد کې سوله او امنيت تر ګواښ لاندې ده هره ورځ مو په سلنو ځوانان مري او يا له هيواد څخه تيښتې ته مجبوريږي او د زياتو ښوونځينو تعليمي موسسو دروازې تړلې دي همدا اوس زموږپه سلهاو زره با تعليمه با معرفته او د علم او پوهې د ډګر ستورې ددې پرځای چې هيواد يې آباد کړی وای په پرديو هيوادونوکې د بې وزلۍ او بيچاره ګۍ شپې او ورځې سبا کوي او د څلورمه او پنځمه درجه انسانانو په توګه ژوند کوي ګرانو زده کوونکو او درنو استادانو! زموږ پلرونو او نيکونو له هر فرصت څخه استفاده کړې او د علم او پوهې ډګر ته يې ور دانګلي همدا اوس هم چې دنوي حکومت په منځته راتلو سره فرصت تر لاسه شوی د پوهنې وزارت د سواد زده کړې معينيت د سواد د زده کړې دعاملو او حرفه يي زده کړې ته د هيواد د وګړو دلاسرسۍ لپاره پدې ورستيو کې د ۱۶ وزارتونو او ادارو سره هوکړه ليکونه لاسليك کړي څو په خپلو ادارو کې د سواد د زده کړې د کورسونو په جوړولو سره د سواد دعاملو لپاره هلې ځلې وکړي او په هيواد کې د جهل او نا پوهۍ تغر ټول کړي چې ياد بهير د جمهوری رياست د دويم مرستيال له خوا تر څارنې او ارزونې لاندې نيول کيږي.

دغه راز د سواد د زده کړې د بهير دچټکولو او په هيواد کې ځوانانو ته د کار موندنې لپاره د سواد زده کړې نوی تعليمي نصاب بشپړ شوی او نوي کتابونه چې د سواد د زده کړې تر څنګ د حرفوي مهارتونو د زده کړې لپاره مهم مسايل اوموضوعات پکې شامل دي چاپ شوي او د سواد زده کوونکو ته به په واك کې ورکړل شي د سواد زده کړې نوی تعليمي نصاب چې د سواد زده کړې معينيت د ښوونکو متخصصينو او استادانو د مخکينيو تجربو پر بنسټ جوړ شوی له هره پلوه ډير غني او د سواد زده کړې او حرفه يي مهارتونو ټولې لارې چارې او ميتودونه پکې په نظر کې نيول شوي دي چې کولای شي د سواد زده کړې په ډګر کې اغيزمن تمام شي د پوهنې وزارت مشري پدې هڅه کې ده چې له هرې ممکنې وسيلې او فرصت څخه په ګټه اخيستلو د خپلو هيواد والو د علم او پوهې د کچې په لوړولو کې اغيزمن ګامونه او چت کړي تر څو وکولای شي زموږ ګران هيواد افغانستان د ترقۍ،پرمختګ اوځان بساينې په لور وخوځوي.

بقيه صفحه اول

## کنفرانس ويديويی...

و در اين مورد برای رياست های معارف ولايات طی يکماه وظيفه سپرده شد تا نتايج امتحانات سال ۱۳۹۶ شاگردان را به کابل بفرستند که بعد از بررسی های لازمی برای فارغان متذکره اسناد تحصيلی توزيع شود. و در صورت سهل انگاری برای آنها مجازات انضباطی مطابق قانون داده خواهد شد.

هم چنان در اين مجلس محترم رحيل محمد فرملی معين تعليمات تخنيکی و مسلکی نيز صحبت نموده گفتند: « رئيسان يک تعداد ولايات در بخش تعينات پروگرام های تخنيکی و مسلکی خلاف قانون اقداماتی نموده اند که بايد از آن جلوگيری صورت گيرد.»

محترم دوکتور سيد حميدالله معين مالی و اداری هم در پيوند به معاشات و حق الزحمه سال مالی جاری صحبت نموده يادآور شدند که از حد معمول مصارفات زيادی صورت گرفته است.

موصوف برای رؤسای ولايتی اذعان داشتند که وزارت پول اضافی را نمی تواند تخصيص بدهد مسوولان بايد تمام مصارفات شان را مطابق به بوديجه موجوده اعيار سازند.

محترم معين مالی و اداری يادآور شدند «در مورد مصرف بودجه به تمام ولايات تفتيش فرستاده می شود که اگر در مصارفات شان مشکلات قانونی موجود باشد از طريق راه های عدلی و قضايی حل گردد و اگر واقعاً بودجه به اساس نيازمندی ها به مصرف رسيده است در آنصورت بودجه سال آينده داده خواهد شد.

شايان ذکر است تصميم اتخاذ گرديد که منبعد اينگونه کنفرانس های ويديويی هر هفته داير می گردد که رؤسا گزارشات کاری خود را ارايه و رهبری وزارت تصاميم مقتضی اخذ و در راستای حل مشکلات اقدام خواهند نمود.

د لومړي مخ پاتې

## په ټول هېواد کې...

آزموينه واخيستل شي.

د ښاغلي شينواري په خبره، اوسمهال ۳۵۰۰ تنه نجونې او هلکان او سلګونه نور په ولايتونو کې راټول شوي، چې دغه آزموينه ورکړي. هغه وويل، په دې آزموينه کې بل نوښت دا شوي، چې ټول هيواد ته پوښتنې له مرکزه استول شوي او له پوښتنو سره يو ځای زموږ د تعليمي نظارت، عمومي تعليماتو، د ساينس د مرکز او داسې نورو ادارو استازي ولايتونو ته تللي، چې هم به د ازموينې بهير اداره کوي او هم به پايلې اعلانوي.

ښاغلي شينواري زياته کړه، د پخوا پر خلاف، چې پايلې به په دوه يا دريو مياشتو کې اعلانېدې، اوس موږ تصميم لرو، چې په يوه اوونۍ کې يې مشخصې او اعلان کړو.

ښاغلي شينواري يادونه وکړه، چې هيڅ ځايي چارواکي په آزموينه کې مداخله نشي کولای او په دې برخه کې به هر ډول اندېښنو ته پر خپل وخت ځواب ووايي. پوهنې وزارت هيله من دی، چې ددې بهير په عملي کولو سره به يو بل ګام د چارو د ښه والي، شفافيت او ځواب ورکولو په برخه کې واخلي او باور لرو، چې افغانستان ته د هر باسواده، تعليم يافته او په کار پوه شخص وړاندې کول ددې هيواد له پرمختګ سره د مرستې يو ګام دی.

د يادولو وړ ده، چې دغه آزموينه نن پر يوه وخت د هېواد په ټولو سړو ولايتونو کې واخيستل شوه، چې په راتلونکې يوه اونۍ کې به يې پايلې اعلان شي.

## د ليک لوست زده کړې د نوي ښوونيز نصاب پېژندنه

څرنګه چې د زده کړې په بهير کې ښوونيز نصاب يو له بنسټيزو اجزاو څخه ګڼل کيږي او د يو ښه معاصر ښوونيز نصاب لرل کولی شي د يوې ټولنې د ښوونې او روزنې په پرمختګ کې رغنده رول ولوبوي نو د نړۍ په پرمختللو او د ودې په حال هېوادونو کې د معمول سره سم هر څو کاله وروسته ښوونيز نصاب نوی کيږي تر څو د وخت غوښتونو او د خلکو اړتياوو ته ځواب ووايي او اړين اصلاحات په کې راوړل شي. د پوهنې وزارت د ليک لوست زده کړې معينيت هم په پخواني ښوونيز نصاب کې ځينو ستونزو او د خلکو بيا بيا غوښتونو ته په کتنې سره دې ته اړ شو چې د يونسکو په مالي او تخنيکي مرسته د ليك لوست زده کړې لپاره نوی ښوونيز نصاب چمتو کړي.دا ښوونيز نصاب د پخواني ښوونيز نصاب په پرتله ډېرې ځانګړنې او ښېګڼې لري، چې د هغو پېژندنې ته ستاسې درنو لوستونکو پام را اړوم. نوی ښوونيز نصاب عمدتاً په دوه مهمو برخو؛ عمومي ليك لوست زده کړه(Basic General Literacy) او د حرفې پر بنسټ ليك لوست زده کړه(Skill Based Literacy) کې چمتو شوی دی د دې ښوونيز نصاب د چمتو کولو او پراختيا چارې د ۱۳۹۴ لېږديز لمريز کال په لومړيو کې پيل او د ۱۳۹۵ لېږديز لمريز کال په پای کې بشپړې شوې. په پيل کې د ښوونيز نصاب چوکاټ جوړ او د ۱۳۹۵ لېږديز لمريز کال د وري په ۱۴ مه د پوهنې د وزير له خوا تاييد او لاسليک شو، چې د دې ښوونيز نصاب چوکاټ پر بنسټ ټولې هغه مؤسسې او ادارې چې د ليك لوست زده کړې په برخه کې کار کوي، کولی شي د خپلو ځانونو لپاره ښوونيز نصاب او درسي کتابونه جوړ کړي. په دې چوکاټ پسې په پورته دواړو برخو يعني (BGL) او (SBL) کې د ښوونيز نصاب او درسي کتابونو د پراختيا او چمتو کولو چارې پيل شوې او د ۱۳۹۵ لېږديز لمريز کال په ورستيو کې پای ته ورسېدلې، چې هره برخه يې په لاندې ډول تاسو ته درپېژنو:

**عمومي ليك لوست زده کړه ( Basic General Literacy):** د عمومي ليك لوست زده کړې په برخه کې ټول پنځه کتابونه چمتو شول، چې د زده کوونکو د لوستلو، ليکلو او حساب وړتياوې پياوړې کوي. د دې برخې د کتابونو د چمتو کولو چارې د ۱۳۹۵ لېږديز لمريز کال د غويي په مياشت کې د څلورو کاري ډلو له خوا د کورنيو او بهرنيو متخصصينو تر څارنې لاندې پيل او د همدې کال په ورستيو کې پای ته ورسېدې. د يادونې وړ ده چې دغه کاري ډلې د ليك لوست زده کړې معينيت د نصاب او ښوونکو د روزنې د رياستونو له کارکوونکو، د يونسکو دفتر له تخنيکي همکارانو او د ليك لوست زده کړې د کورسونو له ښوونکو څخه جوړې شوې وې. بيا دغه کتابونه د ۱۳۹۵ لېږديز لمريز کال د سلواغې په ۲۵ مه د پوهنې وزير له خوا د تاييد په موخه لاسليك او د ۱۳۹۶ لېږديز لمريز کال د وري په مياشت کې چاپ ته ورسپارل شول.

**د قرآنکريم زده کړې کتاب (پښتو او دري):** د قرآنکريم کتاب لوستونه په څلورو برخو کې ترتيب شوي دي، چې لومړۍ برخه يې د تورو د شکل، غږ او حرکاتو پېژندنه په پيل، منځ او پای د کلمې کې ده، دويمه برخه يې د سکون پېژندنه او کارول، دريمه برخه يې د همزې پېژندنه... **(٤مخ)**

د لومړي مخ پاتې

## د بي بي عايشې (رض)...

احاديثو او ارشاداتو په رڼاکې يې د علم زده کړه پر نر او ښځه فرض وبلله. ښاغلي صميم هيله وښوده، چې فارغې شوې نجونې به وطن او اسلام ته د خدمت مصدر وګرځي.

د ولسي جرګې غړي عبدالستار خواصي هم د خپلې وينا په ترڅ کې د بي بي عايشې (رض) د عالي دارالعلوم فارغانو ته د فراغت مبارکي ووېله او د اسلام مبارك دين د ارشاداتو له مخې يې د ښځو پر زده کړو ټينګار وکړ.

د بي بي عايشې (رض) عالي دارالعلوم په ۱۳۶۸ لمريز کال کې د مدرسې په ډول رامنځ ته شوی، چې په ۱۳۸۶ کال کې دارالعلوم ته ارتقا ورکړل شوې ده.

له دې معتبر اسلامي بنسټ څخه تر دې مهاله په لسو دورو کې ۳ زره نجونو د فراغت اسناد ترلاسه کړي دي.

دغه راز د يادولو وړ ده، چې د ياد دارالعلوم د څوارلسم ټولګي د ټولو هغو فارغانو، چې د نمرو سلنه يې ٪۸۰ او يا له هغه لوړه وي؛ د لوړو زده کړو د دوام په موخه د کابل پوهنتون او د استاد برهان الدين رباني د ښوونې او روزنې پوهنتون ته معرفي کيږي.

د غونډې په پای کې د بي بي عايشې (رض) د عالي دارالعلوم آمرې مېرمن نظيفې صديقي ته د ښو خدمتونو په موخه د پوهنې وزارت لخوا د «ملالۍ ميونډۍ» مډال ورکړل شو.

دغه راز پر ممتازو زده کوونکو ستاينليکونه هم وويشل شول.

## منزل

پردغه لار چې یو روان منزل ته نه رسیږو
ملګرو پریږدی دا کاروان منزل ته نه رسیږو
دلته تر دار پورې ګامونه په لمبو کې نه ځي
مور د منصور او د جانان منزل ته نه رسیږو
یارانو پریږدی د ساحل او د امان خیالونه
په سترګو وینمه توپان منزل ته نه رسیږو
لکه اورنګ توره مو سره ده د خپل ورور په وینو
راته په قهر دی اسمان منزل ته نه رسیږو
راته شهید په خپلو وینو دی وصیت لیکلی
څو چي اغیار وي نګهبان منزل ته نه رسیږو
اوس خو واعظ او ملا دواړه بیګانه ښکاریږي
پردې منبر پردې آذان منزل ته نه رسیږو
د انصاف ونه مو په خپلو وینو وروزله
لا ملامت یو د جهان منزل ته نه رسیږو
چي ملالۍ مو په پردیو کي پلو ګرځوي
اوس به څه وایي شهیدان منزل ته نه رسیږو
جهاني تا چي اوربلونو ته غوټۍ روزلې
په باغ دي کښیوتل زاغان منزل ته نه رسیږو

رالیږونکی: حمید

## وطن

خواهم وطن بقای تو را از خدای تو
تا جان به تن مراست بگویم ثنای تو
در حفظ تست و وحدت ملی پیام من
این نکته دل کش است که دارم هوای تو
راز بقاست گر که بمیرم برای عشق
افغان سزد که زنده بمانم برای تو

رالیږونکی: شعیب ورسجی

## معلم

معلم بزرگ ، هنرمند بزرگی است که بر روح انسان ها اثر خود را نقش می زند.

معلم خوب دست انسان را می گیرد ، فکر او را باز می کند ، به قلبش رسوخ می کند و آینده او را رقم می زند.

معلمان تأثیرگذار ما کسانی هستند که به توانایی های ما ایمان دارند.

کسی که از دانش اندوزی باز می ماند پیر است.

جوان نگه داشتن مغز ، بزرگترین نعمت زندگی است.

استادان بزرگ ، شاگردان خود را به سرزمین هایی هدایت می کنند که خود آن را ندیده اند.

تربیت امروز انسان ، سمت و سوی فردای او را رقم می زند.

من بر آینده تأثیر می گذارم ، چون تدریس می کنم.

یک دستور العمل مهم : اول عشق بورز ، بعد آموزش بده.

ارسالی: نجیم

## پوهه د الله (ج) تر ټولو غوره نعمت دی

عالم باید د غوسې اور د علم په اوبو مړ کړي او د هوس شیطان د پوهې په افسون په ښیښه کې بند کړي او د کارونو ترسره کول په مهربانی پیل کړي .

هغه خبره چې ګټه نه لري، نه ویل یې غوره دي، بې ګټې خبره د هغه اور په څېر ده، چې لوګی یې زیات، تودوخه او لمبه یې ډېره کمه وي .

پوهه د الله (ج) تر ټولو غوره نعمت دی.

د پوهې خاوندانو زړه هغه مهال خوشالیږي، چې بردبار وي او بې شرمه او بې حیا خلک ځانته نږدې نه کړي .

سپېڅلی او ځیرک هغه ځوک دی، چې لنډې او مانا داره خبرې وکړي .

څوک چې خپله ژبه د بدو خبرو له کولو څخه وساتي، نو د هیچا زړه به ونه ځوروي.

هغه څوک چې د نورو په پرتله له خپل خدای (ج) څخه ډېره هیله او تمه لري، نو له نورو څخه زیات د ستاینې وړ دی .

ښښونکی او د ښه خوی خاوند هغه څوک دی، چې د ښښنې په ګاڼه ځان سینګار کړي. له ځوانمردۍ څخه دا ډېره لرې ده، چې یو څه چاته وښښي او وروسته پرې احسان باروي .

هر څوک چې د نورو له برخلیک څخه پند وانخلي، نور به د ده له برخلیک څخه پند واخلي .

هغه څه چې یاستئ تاسو په غوره توګه معرفي کوي، تر هغه څه چې وایئ یې .

رالیږونکی: عزیر

## خواص لوبیا سبز

لوبیا سبز منبعی غنی از آهن است و مصرف آن به خانم های بار دار بسیار مفید است به دلیل این که کم کالوری و فاقد چربی است در رژیم لاغری بسیار استفاده میشود و از نظر تغذیه ای بسیار مقوی میباشد و بهترین جاگزین گوشت سرخ از نظر جذ ب آهن است.

لوبیا سبزبرای افزایش استحکام استخوان ها-- کاهش افسرده گی ــ کاهش فشار خون --- جلو گیری از حملات قلبی و سرطان --- و همچنان در تنظیم خواب و اشتها نقش کلیدی را ایفا میکند

ارسالی: عابده عابدی

## خلور شیان باید مات نه کړو

۱-باور

۲-زړه

۳-وعده

۴-اړیکه

ځکه ماتیدل غږ نه لري خو ژور درد لري

رالیږونکی: انس "مونس"

## رسول اکرم «ص» فرمائي

ماشومان مې په پنځه دلایلو ډیر خوښ دي .

۱- ډیر ژاړی ژړا دجنت کلي ده .

۲- کله چې خپه شی ژر پخلا کیږی. په زړه کینه نه لري.

۳- څه چې جوړوي هغه ژر خرابوي . ځکه چې د دنیائي شیانو سره زړه نه تړي .

۴- له خاورو سره لوبې کوي ځکه غرور نه لري .

۵- هرڅه چې لري نن ئې خوري . ځکه د سبا غم ورسره نشته . صداقت له ماشومانو زده کړئ .

رالیږونکې: نفیسه

## غوره ویناوې

۱- تیرهیر کړه په نن کې ژوند وکړه .

۲- هیڅ ئې په کیسه کې مه کیږه چې څوک ستاپه اړه څه فکر کوي

۳- ځان ته وخت ورکړه ځکه چې وخت دستونزو حلوونکی دی.

۴- خپل ځان هیڅ کله له نوروسره مه پرتله کوه .

۵- په ذهن کې هغو سوالونوته ځای مه ورکوه چې ځواب ئې ستانه وي خوښ.

۶- پرته له تاهیڅوک تانشي نیکمرغه کولای .

۷- وخانده،ځکه ته په نړۍ کې یواځنی څوک نه ئی چې ستونزې لرې.

رالیږونکې: حنا محمدی

## درس بزرگ

از عقاب پرسیدند : آیا ترس از زمین افتیدن را نداری .
عقاب گفت ! من انسان نیستم که باکمی بالا رفتن تکبر کنم من دراوج بلندی نگاهم همیشه به پایین است .

ارسالی: حسیبا سنگین

## خداوندا!

خداوندا تو میدانی که من نگران فردای خود هستم،مبادا گم کنم راه قشنگ آرزوها را مبادا گم کنم اهداف زیبا را، مرا تنها نگذاری،که من تنهاترین تنهایم؛ انسانم خدا گوید: تو ای زیباتر از خورشید زیبایم، تو ای والاترین مهمان دنیایم، تو ای انسان ! بدان همواره آغوش من باز است شروع کن، یک قدم با تو، تمام گامهای مانده اش با من.

ارسالی: محمدعباس

گل آغا احمدي وردګ

## نورمحمد قرقین د پوهنې یو څلویښتم وزیر

ښاغلی نورمحمد قرقین د ۱۳۸۳ څخه تر ۱۳۸۴ کال پورې د افغانستان د پوهنې وزیر وو. نور محمد قرقین په ۱۳۳۲ کال په جوزجان ولایت کې زیږېدلی، خپل تحصیلات یې د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې د لیسانس تر درجې پورې سر



ته رسولي دي. ښاغلی قرقین د ۱۳۵۷ او ۱۳۶۴ کلونو تر منځ د کابل پوهنتون د ریاست د تالیف او ترجمې د غړي، د افغانستان د علومو د اکاډمي د غړي، د بلخ ولایت د سیلو د رییس او د حیرتان د مایع ګاز او نفتي موادو د رییس په توګه دندې اجرا کړې دي. ښاغلی قرقین د څو کلونو لپاره په هندوستان، پاکستان، ترکیه او ترکمنستان کې اوسېدلی، د جهادي شورا، د ټرونکو پرانیستونکو شورا، د روم غونډه او په ۱۳۸۱ کال د کابل په بیړنۍ لویه جرګه کې یې غړیتوب درلود.

ښاغلی نورمحمد قرقین په ۱۳۸۳ کال کې د پوهنې او په ۱۴۸۴ کال کې د کار او ټولنیزو چارو د وزیر په توګه یې دندې اجرا کړې دي. نوموړی د جمهوري ریاست د ۱۳۸۳ کال په ټاکنو کې د حامد کرزي د ټاکنیز دفتر مشر وو او په ۱۳۸۹ کال کې د قرغیزستان په مرکز بیشکک کې د افغانستان د سفیر په توګه و ټاکل شو. ښاغلی قرقین په پښتو، دري او ازبکي ژبو خبرې کولی شي.

Weekly Marif Newspaper

Established 2002, Issue No 225, Month December 2017

Ministry of Education Cultural and Social Issue

# پوهنې وزارت د ملګرو ملتونو پراختيايي موخو ته د رسېدو لپاره قوي اراده لري

د ملګرو ملتونو څلورمې تلپاتې پراختيايي موخې (SDG4) ته د رسېدو لپاره د بېلابېلو ادارو د استازو په ګډون د کابل په سرينا هوټل کې د ملګرو ملتونو د علمي او کتلوري سازمان يونسکو لخوا غونډه جوړه شوې وه .




د پوهنې وزارت سرپرست ډاکټر محمد ابراهيم شينواري په ياده غونډه کې د ګډون ترڅنګ يادونه وکړه، چې پوهنې وزارت د ملګرو ملتونو څلورمې تلپاتې پراختيايي موخې ته د رسېدو لپاره قاطع اراده او منظم پروګرامونه لري.

ښاغلي شينواري ددې پروګرام په ټولو شريکانو او همکارو ادارو غږ وکړ، چې په منظم ډول د ياد هدف د لاس ته راوړلو په برخه کې له پوهنې وزارت سره مرسته او همکاري وکړي.

همداراز ښاغلي شينواري په پوهنې وزارت کې د پراخو اصلاحاتو د تطبيق او عملي کېدو ژمنه هم وکړه، کوم چې د ملګرو ملتونو پراختيايي موخو ته د رسېدو په برخــه کــې اړيــن بلــل کېــږي.

د ملګــرو ملتونــو څلــورم تلپــاتې هــدف (SDG4)لس مشخصې موخې لري، او هڅه کېږي، چې په ټوله نړۍ کې دغو موخو ته له بېلابېلو لارو رسېدنه وشي. په دغـو موخـو کـې لومړنيـو او منځنيـو زده کړو، تخنيکي او مسلکي او لوړو زده کړو ته متوازن لاسرسی، د مهارتونو پياوړتيا، د جندر مساوات، د ځوانانو سواد زده کړه او يو شمېر نور مهم او اساسي اهداف شامل دي. ملګري ملتونه هڅه کوي، چې تر ۲۰۳۰ زېږديز کال پورې په ټوله نړۍ کې له بېلابېلو لارو ياد اهداف تر لاسه کړي او ډاډمن شي، چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ټولې نجونې او هلکان متوازنو او باکيفيته زده کړو ته لاسرسی ولري.

# گشایش یک باب مکتب در شهر قلات

لیســه چــونی شــهر قــلات ولایــت زابــل طــی مراســمی افتتــاح و بــه بهــره بــرداری ســپرده شــد.

محتــرم والــی زابــل طــی ســخنرانی کوتــاهی گفتنــد: «اعمــار و بــاز ســازی مکاتــب اگــر از یکســو فــراهم آوری تســهیلات آموزشــی بــرای اولاد وطــن اســت از جانــب دیگــر مــی تــوانیم بــه خــاطر یــک آینــده ســعادتمند تصــمیم بگیــریم.»

موصــوف اضــافه نمودنــد: « کــار در جهــت بهبــود نظــام آموزشــی کشــور صــرف کــار دولــت نــه، بلکــه بــه حمایــت مــردم شــریف خــود نیــز نیــاز جدی داریم.»

گفتنــی اســت کــه تعمیــر ایــن لیســه بــا داشــتن ۸ صــنف درســی- دو اتــاق



اداری بــه ارزش ۱۸ میلیــون افغــانی از بودجــه انکشــافی وزارت معــارف در مــدت یکســال بصــورت پختــه و اساســی اعمــار گردیــده اســت کــه ظرفیــت حــدود ۲۰۰۰ شــاگرد را دارا می باشد.

# کندهار کې د نجونو د باسکېټبال سيالۍ وشوې

په کندهار کې د نجونو ښوونځيو ترمنځ د باسکېټبال پيل شوې سيالۍ د زرغونې انا اول نمبر ښوونځي په بري پای ته ورسېدې. دغه سيالۍ د کندهار د نجونو ښوونځيو د ۶ لوبډلو ترمنځ د زرغونې انا عالي لېسې په جمنازيوم کې ترسره



شوې، چې په لړ کې يې د زرغونې انا اول نمبر ښوونځي لومړی او د عينو مينې دويم نمبر ښوونځي دويم مقام خپل کړ.

د کندهار د پوهنې رئيس عبدالقادر پيوستون، چې د دغو سياليو پای لوبې ته ورغلی وو، زده کوونکو او د ښوونځيو مسوولينو ته يې د خپلې وينا پر مهاَل د ښوونځيو له آمرينو مننه وکړه، چې زده کوونکي يې د زده کړو ترڅنګ د سپورټ په ډګر کې هم روزلي دي.

هغه ډاډ ورکړ، چې په ښوونځيو کې به د ورزش د پرمختګ لپاره لا ډېرې اسانتياوې برابرې کړي.

د دوهم مخ پاتې

# د ليک لوست زده کړې...

او څلورمه برخه يې د قرآنکريم د سورتونو روان لوستل دي.

**د پښتو/دري ليك لوست زده كړې كتاب:** ۸ فصلونه، ۴۰ لوستونه او ۱۹۲ مخونه لري. د دې کتاب په لوستلو کې داسې ګڼ شمېر فعاليتونه ځای پر ځای شوي دي، چې زده کوونکي د هغوي په سرته رسولو سره کولی شي د لوستلو او ليکلو وړتياوې ترلاسه کړي. په دې کتاب کې د پښتو او دري ژبې غږونو د پېژندنې له پاره د غږپوهنې له ميتود څخه کار اخيستل شوی دی.

**د رياضي ليك لوست زده كړې كتاب (پښتو او دري):** ۲۲ لوستونه او ۹۱ مخونه لري، چې په عمومي توګه له ۱- ۵ رقمي عددونو لوستل او ليکل، څلور ګونې عمليې، د حساب ماشين کارول، د کسر پېژندنه، هندسي شکلونه او د اندازې اخيستلو واحدونه زده کوونکو ته ورښيي.

**د پښتو او رياضي د ليك لوست زده كړې كتابونو لپاره د زده كوونكي د ارزونې كتابچه:**دا کتابچه په بېلا بېلو پړاونو کې د زده کوونکو د زده کړې د کچې د معلوموملو په موخه جوړه شوې ده، چې په عمومي توګه ۲۰ ارزونې لري. له دې جملې څخه ۱۲ ارزونې د پښتو/دري کتاب او پاتې نورې ۸ ارزونې يې د رياضي کتاب له پاره ځانګړې شوې دي.

**د ليك لوست زده كړې كتابونو د تدريس لارښود (پښتو او دري):** په دې لنډ لارښود کې کوښښ شوی دی، چې په ډېره لنډه توګه د ليك لوست زده کړې نوي کتابونه، موخې او د فعاليتونو د سرته رسولو طريقې، ښوونيز پلان او د زده کوونکو د ارزونې کتابچه معرفي شوې دي.

**د حرفې پر بنسټ ليك لوست زده كړه (Skill Based Literacy)**

د حرفې پر بنسټ د ليك لوست زده کړې پروګرام د هغې نيازسنجۍ د سروې په پايله کې چې د ليك لوست زده کړې معينيت له خوا د يونسکو دفتر په مالي او تخنيکي مرسته ترسره شوې وه،چمتو شوی دی. د دې پروګرام موخه دا ده، چې سواد ته له عملي مهارتونو سره تړاو ورکړي او فارغان يې وکولی شي د هېواد په اقتصادي او ټولنيز پرمختګ کې فعاله ونډه واخلي. دا يو داسې پروګرام دی، چې په هغې کې زده کوونکي د ليکلو او لوستلو سربېره يوه عملي حرفه هم زده کوي، تر څو د هغې په کارولو سره په خپل ژوند کې مثبت بدلون رامنځ ته او د ځان او ټولنې په اقتصادي پرمختګ کې فعاله ونډه واخلي.داسې پټيل شوې ده، چې د حرفې پر بنسټ ليك لوست زده کړې په پروګرام کې د ۸ حرفو لپاره کتابونه چمتو شي، چې د هغوي له ډلې څخه د لاندې څلور حرفو لپاره کتابونه جوړ شوي او د چاپ چارې يې روانې دي:خياطي، د شاتو مچيو روزنه، د چرګانو روزنه، لبني محصولات د لاندې څلورو حرفو لپاره کتابونه د چمتو کېدو په درشل کې دي، چې د چاپ چارې به يې په راتلونکي کې ترسره شي: اساسي روغتيا او لومړنۍ مرستې، د کبانو روزنه، د سبزيجاتو کرنه، د شخصي سوداګرۍ پيل.

**د ليك لوست زده كړې د نوي ښوونيز نصاب ځانګړنې:** د ليك لوست زده کړې په نوي ښوونيز نصاب کې هڅه شوې، چې د پخواني ښوونيز نصاب نيمګړتياوې له منځه يوړل شي او د نړۍ د معياري نصابونو سره همغږي ولري. دا ښوونيز نصاب د نورو نصابونو په پرتله ډېرې ځانګړنې لري، چې تر ټولو مهمې يې په لاندې ډول دي:

**قابليت محوره:** په دې ښوونيز نصاب کې کوښښ شوی، چې قابليتونو ته د محتوا په پرتله ډېره پاملرنه وشي. ځکه، چې په پخواني نصاب کې پر محتوا باندې ډېر ټينګار شوی و.

**فعاليت محوره:** د ليك لوست زده کړې په نوي ښوونيز نصاب کې د نورو ټولو نصابونو پرتله ډېر شمېر فعاليتونه ځای پر ځای شوي دي، چې د زده کوونکو د لوستلو، ليکلو او حساب مهارتونه پياوړي کوي. **شاګرد محوره:** د ليك لوست زده کړې په دې نصاب زده کوونکی د ښوونکي په پرتله ډېر فعال دی او ښوونکی يوازې د يو تسهيل کوونکي رول لوبوي. د ليك لوست زده کړې نوی ښوونيز نصاب د هېواد په کچه لومړنی ښوونيز نصاب دی، چې د پورته ياد شويو ځانګړنو په پام کې نيولو سره چمتو شوی دی. دا نصاب به د روان کال لپاره"په افغانستان کې د ليك لوست زده کړې پياوړتيا (ELA)" پروګرام په کورسونو کې په ازمايښتي توګه تطبيق شي. په هېواد کې د ليك لوست زده کړې له ټولو ښوونکو او نورو کار کوونکو څخه په ډېر درنښت هيله کيږي، چې د تطبيق په بهير کې د دې ښوونيز نصاب او درسي کتابونو د لا ښه کولو په موخه خپل نظريات او وړانديزونه د ليك لوست زده کړې له معينيت سره شريك کړي.هغه مؤسسې، چې د ليك لوست زده کړې په برخه کې کار کوي، کولی شي په خپلو کورسونو کې د تدريس په موخه دغه نوی ښوونيز نصاب او درسي کتابونه وکاروي. په سافټ بڼه، د دې کتابونو د ترلاسه کولو لپاره دوی کولی شي چې د پوهنې وزارت د ليك لوست زده کړې معينيت ته مراجعه وکړي.

**شمس الله عمري**

مسوول مدير: محمد نسيم "عياذ"
کتنپلاوي: محمد کبير حقمل - معراج زماني - استاد ګل رحمان رحمان
عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار
خبريال: - محمد اشرف رسولي
کمپوز و ډيزاين بريالی رحمانزی
شمير: ۵۰۰۰
ديجيتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ايميل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د اړيکو او عامه پوهاوي رياست، د پوهنې اوونيزې مديريت